# په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوي پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسئولیت

**لیکوال: عبدالحمید ظهیر**

**علمي او تحقیقي رساله**

**لومړی برخه:**

## لنډیز

مهاجرت یو له پخوانیو او ټولنیزو پدیدو څخه ده چې د ځمکې پر مخ د هیوادونو تر منځ د رسمي پولو له رامنځ ته کیدلو سره سم را منځ ته شوی او ادامه لري، یاده پدېده نن ورځ د بشري حقونو یؤ له مهمو او جنجالي مؤضوعاتو څخه شمیرل کېږي سربیره پردې چې د مهاجرینو لپاره په نړیواله کچه زیات کار شوی او د مهاجرینو د حقونو خوندیتوب په موخه نړیوال سندونه او کنوانسیونونه رامنځ ته شوي دي خو بیا هم هر هیواد د مهاجرینو په وړاندې د خپل میل او منافعو په نظر کې نیولو سره داسې اعمال ترسره کوي چې د دیني او وضعي قوانینو له مخې د بشر حقونو نقض ګڼل کیدلای شي.

بدبختانه په دي لړۍ کې یو شمیر زیات افغان مهاجرین هم د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې د دغه ډول کړنو قرباني شوي او کېږي په ځانګړې توګه په ګاونډیو هیوادونو کې، په همدې موخه په یاد تحقیق کې د مهاجرت په پیژندنه او اړونده مفاهیمو، په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان مهاجرینو په حقوقي وضعیت، د افغان مهاجرینو هیواد ته د راستنیدو په برخه کې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په مسئولیتونو او داسې نورو مؤضوعاتو بحث تر سره شوی ده.

**مهمې اصطلاح ګانې:** مهاجرت، نړیوال سندونه، ګاونډي هیوادونه، په زور سره شړل، سیاسي ګټه اخیستنه، کوربه او متبوع دولت.

## سریزه

الحمدالله رب العالمین و العاقبة اللمتقین و الصلات و السلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و اصحابه اجمعین. و بعد!

په تاریخي لحاظ که وکتل شي د نړۍ تقریباً د ټولو هیوادونو یوه ډله وګړیو په مختلفو وختونو کې له خپلو اصلي هیوادونو څخه نورو هیوادونو ته مهاجرتونه تر سره کړي دي چې یاد مهاجرتونه او له هیواد څخه جلاوالی هم بیلابیل عوامل لري لکه اقتصادي، فرهنګي، استعماري، سیاسي او داسې نور چې تر ټولو مهم مهاجرت په خپل هیواد کې د جنګ، بیروني اشغال، نسل وژنې او داسې نورو غیر انساني کړنو له امله د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه د نړۍ نورو هیوادونو ته تر سره کیږي او زیاته برخه یې لومړي سر کې ګاونډیو هیوادنو ته مهارجرتونه کوي په دي خاطر ګاونډي هیوادونه د سکونت او مهاجرت لپاره ټاکل کیږي چې یاد هیوادونه د فرهنګي مشترکاتو، فاصلې نژدې والي، کمو لګښتونو او داسې نورو عواملو له مخې موثر تمامیږي.

همدارنګه د ګاونډیتوب اصل له مخې هم هغه هیوادونه چې د ګاونډي هیواد اتباع یې په سخت حالت کې قرار ولري په اخلاقي لحاظ ځان مسول ګڼې تر څو د هغوی ژوند ژغورلو په موخه ځای او د لنډ وخت لپاره پناه ورکړي، ولې په اوږد مهاله کې د غه دوستي او همکاري په تقابل، د اړیکو په خرابوالي رقابتونو او سیاسي فشارونو واردولو اوړې چې د نړۍ په کچه پدې برخه کې زیات مثالونه شتون لري د دغه ډول حالاتو رامنځ کول په دواړو هیوادونو پورې اړه لري، ځکه چې له یو طرفه پناه ورکونکی دولت د مهاجرینو له شتون څخه په اوږد مهاله کې په تنګ راځي او په پایله کې له مهاجرینو څخه په بیلابیلو ډولونو ناوړه ګټه اخلې د مثال په توګه د مهاجرینو په متبوع دولت د برلاسي او کنترول په موخه د هغوي په اتباعو باندې په خپل هیواد کې مختلف فشارونه واردوي تر څو یې غوښتنې و منل شي، له بله طرفه د مهاجرو له شتون څخه ډیرې اقتصادي منافعې تر لاسه کوي چې دغه منافع هم له مرسته کوونکو هیوادونو او سازمانونو څخه تر لاسه کیږي او هم د مهاجرو له ورځنیو مصارفو او اقتصادي فعالیتونو چې په کوربه هیواد کې یې

تر سره کوي، ولې بیا هم کوربه هیوادونه د مهاجرینو له موجودیت څخه غلطه سیاسي او ناوړه بشري ګټه اخلي.

زمونږ ګران هیواد افغانستان د نړۍ په یو داسې مؤقعیت کې قرار لري چې همیشه د نړۍ زبر ځواکونو له لوري د اشغال لاندې راغلی، ډیر انساني او مالي زیانونه یې لیدلي او ډیر هیوادوال مو له دا څه باندې څلورو لسیزو د نړۍ په مختلفو هیوادونو، په ځانګړې توګه ګاونډیو هیوادونو کې مهاجرت کولو ته اړ کړل شوي دي چې د نورو عواملو تر څنګ د دغه مهاجرتونو ا صلي لامل د نړیوالو زبر ځواکونو تجاوز او متواتر اشغالونه دي چې په تیره یوه پیړۍ کې د نړۍ ۳ سترو قدرتونو تر تیري او تجاوز لاندې راغلی ده او ډیر انسانان یې له خپل اساسي حق چې د ژوند کولو حق ده محروم کړي او په پایله کې مو یؤ زیات شمیر هیوادوالو د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه ګاونډیو هیوادنو ته مخه کړې ده.

دا چې ګاونډیو هیوادنو په لومړي سر کې افغان مهاجرو سره انساني رویه کړې او پناه یې ورکړې د قدر وړ کړنه ده او باید قدر دانی یې وشي ولې په هغه ډول چې لازمه وه دغه میلمه پالنه یادو هیوادونو په سمه او مناسبه توګه پای ته ونه رسوله، نن ورځ هم په پاکستان او هم ایران هیواد کې زمونږ زیات شمیر هیوادوال له سختو حالاتو سره مخ دي، لکه زنداني کېدل، د اموالو مصادره، د یو برده او غلام په سترګه ورته کتل او بالاخره د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف په زور سره له یادو هیوادونو څخه بدون له یو منظم پلان او برنامې شړل، بناً یاده مقاله دغه او دې ته ورته نورو مواردو را سپړلو او حل لارو پیداکولو په موخه لیکل شوې او د عملي کولو لپاره یې د اړونده برخې قدرمنو مسولینو او ګرانو هیوادوالو ته د مطالعې لپاره وړاندیز کیږي.

## کلیات او مفاهیم:

په دې برخه کې به لومړۍ پر مهاجرت، د مهاجرت اړوند مفاهیمو، مهاجرت ډولونو او مهاجرت عواملو بحث تر سره او یادو مفاهیمو پر پیژندنه به د بیلابیلو عنوانونو لاندې رڼا واچول شي.

### ۱-۱: د مهاجرت اړوند مفاهیم او اصطلاحات

**الف- مهاجر:** مهاجر هغه چاته ویل کیږي، چې د مختلفو عواملو له امله په بهر کې د مېشتېدنې په نیت تللی وي. په اړوند هیواد کې د مهاجر په توګه د ثبت رسمي اسناد په لاس کې ولري او یایې هلته هستوګنې په اړه قراین او شواهد موجود وي.

**ب- پناه اخیستونکی:** هغه شخص ته ویل کېږي چې د نژداي، قومي، ژبني، سمتي او داسې نورو تبعیضونو سره مخ وي او یا هم په ټولنیزو او سیاسي ډلو او سازمانونو کې د غړیتوب له امله خطر ورته متوجه وي، په همدې اساس خپل اصلي هیواد ترک، په دویم او دریم هیواد کې د پناه غوښتونکې شي.

**ت- پردې (بیګانه):** ټول هغه وګړي چې په کوم هیواد کې ژوند کوي (کوربه هیواد) خو د هغه هیواد تابعیت ونلري، هغه که د مقیم، پناه غوښتونکې، ګرځندوی او یا هر هدف په موخه په اختیاري او غیر اختیاري توګه هلته تللی وي عبارت له پردې یا بیګانه څخه ده. (د نړیوالو حقوقو موسسه 1892 کال).

**ث- اواره:** هغه ډله وګړي چې د جنګ، قحطی او طبعي پیښو له امله مهاجرت او یا بیځایه کېدلو ته مجبور شي عبارت له اواره او بیځایه شوو  څخه دي، چې په داخل د هیواد کې له یوه ځایه بل ځای ته کوچېږي او یا هم له مرزونو څخه بیرون نورو هیوادنو ته ځي. دغه ډله وګړي نظر نورو مهاجرو ته په لوړه کچه د بشري مرستو لاندې نیول کېږي او کوربه هیوادونه ډیره توجه ورته کوي.

**ج- بیرته راستنیدونکي:** هغه ډله وګړي چې خپل اصلي هیواد یې د عمومي ناوتریخوالي له امله ترک کړي وي او بل هیواد ته د مهاجر په توګه تللي وي، کله چې بیرته خپل اصلي هیواد ته راستنیږي عبارت له بیرته راستنیدونکو څخه دي، چې د دوي بیرته راستنیدنه به یا په خپله خوښه او یا به د کوربه هیوادنو له لوري په زور سره راویستل کېږي.

**د- کوربه ټولنې:** په داخل د هیواد کې هغه ټولنې چې بیرته راستنیدونکو یا داخلي بیځایه شویو ته په خپله غیږ کې ځای ورکوي او د سرپناه ورکولو زمینه ورته برابروي عبارت له کوربه ټولنو څخه دي.

**و- ګاونډي هیوادونه:** افغانستان له پنځه ګاونډیو هیوادونو (ایران، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او چین) سره رسمي او د پاکستان له هیواد سره غیر رسمي او جبري فرضي کرښه د دیورند په نوم لري چې د مختلفو

عواملو په اساس د تاریخ په بیلابیلو وختونو کې افغانان یادو هیوادونو ته مهاجر شوي دي ولې اکثریت برخه یې د ایران او پاکستان په هیواد کې میشت دي بناً په یاد تحقیق کې د ګاونډیو هیوادونه څخه موخه هم همدا دوه هیوادنه (پاکستان او ایران) دي.

### ۱-۲: د مهاجرت ډولونه

معمولاً نن ورځ مهاجرتونه په دوه لویو برخو ویشل شوي دي چې عبارت دي له قانوني او غیرقانوني مهاجرتونو څخه.

### ۱-۲-۱: قانوني مهاجرت

هغه وګړي چې په کوربه هیواد کې د اوسیدلو قانوني سند ولري عبارت له قانوني مهاجرو څخه دي په دي کټګورۍ کې هغه کسان شامليږي چې د کوربه هیواد ټول مقررات مراعت کړي، کوربه هیواد ته داخلیدل، اوسیدل، او فعالیت کول یې د قانوني سند لرلو په اساس تر سره کيږي، د دغه ډله وګړو په اړه د کارګرانو څخه د ملاتړ نړیوال کنوانسیون په ۵ ماده کې ذکر شوي، (هغه مهاجر چې په کوربه هیواد کې د قانوني سند په لرلو سره ژوند کوي د ټولو حقوقو نه یې ملاتړ کيږي لکه د کار کول، مزد، اوسیدل او داسې نور) په داسې حال کې چې غیر قانوني مهاجرینو څخه دغه ډول ملاتړ نشي تر سره کېدلای.

### ۱-۲-۲: غیر قانوني مهاجرت

ټول هغه وګړي چې بدون له کوم سند څخه کوربه دولت کې ژوند کوي هغه که په هر دلیل وي عبارت له غیر قانوني مهاجرو څخه دي، داسې هم پیښیږي چې یو تعداد وګړي لومړي سر کې د قانوني سند په لرلو سره بل هیواد ته مهاجرت وکړي ولې په سند کې د وخت له پای ته رسیدلو وروسته هغه نه تمدیدوي بناً د نه تمدید په صورت کې یاد وګړي هم د غیر قانوني مهاجرو په حیث شمیرل کيږي چې اکثره یې بیا له بیلابیلو ستونزو سره مخ او خپل قانوني حقونه له لاسه ورکوي.

## ۳-۱: له افغانستان څخه د مهاجرت کولو عمده لاملونه

مهاجر او مهاجرت کول یوه نړیواله پدیده ده چې د بیلابیلو هیوادونو وګړي یې د بیلابیلو عواملو په اساس له خپل اصلي هیواد څخه نورو هیوادونو ته تر سره کوي دا چې د افغانستان وګړو ولې او د څه لپاره مهاجرتونو ته مخه کړې او یا یې کوي ممکن زیات عوامل ولري ولې مهم لاملونه یې په لاندې ډول دي.

### ۱-۳-۱: جبري عوامل (د ژوند ژغورل)

دا یو جوت او معلومداره حقیقت ده چې افغانستان او افغانان تقریباً له نیمي پیړۍ راپدې خوا د نړۍ زبر ځواکونو له لوري تر یرغلونو او تجاوزنو لاندې راغلي دي چې د یادو یرغلونو په پایله کې یې ډیر زیات ځاني او مالي زیانونه لیدلي دي، ځکه نو په میلیونونه افغان وګړي د خپل ژوند او عزت ژغورنې په موخه جبراً دې ته اړ کړل شوي چې خپل مال، کور، کلی، او هیواد پریږدي، او مهاجرت ته مخه کړي، نن ورځ چې کوم افغانان د مهاجرو په توګه په نورو هیوادونو کې ژوند کوي او له بیلابیلو ستونزو څخه کړیږي د هغه 80 سلنه یې د بهرنیانو له لوري په ځانګړې توګه د یرغلګرو هیوادونو (شوروۍ، امریکا او ناټو غړو) له خوا د ظالمانه یرغلونو له امله دې ته مجبور شوي چې مهاجرت ته مخه کړي، دغه ډله وګړي اکثراً ګاونډیو هیوادنو ته مهاجر شوي دي چې لویه برخه یې د ایران او پاکستان هیوادنو کې میشت دي.

### ۲-۳-۱: تجارتي او اقتصادي عوامل

یو تعداد افغانان د نورو هیوادونو د وګړو په څیر د خپل ژوند ښه کولو، اقتصادي منافعو تر لاسه کولو، او داسې نورو هدفونو په موخه له هیواد څخه بهر په نورو هیوادونو کې مهاجرتونو ته مخه کړې چې دغه ډله وګړي د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې ژوند کوي خو اکثریت برخه یې په غربي هیوادونو په ځانګړې توګه اروپا کې میشت دي.

### ۳-۳-۱: ټولنیز، سیاسي او فرهنګي عوامل

یوه ډله افغانانو د نورو سیاسي، او فرهنګي دلایلو په اساس مهاجرتونو ته مخه کړې د مثال په توګه د هیواد هغه ولایتونه او سیمې چې د ایران هیواد سره پوله لري له ایراني وګړو سره تګ راتګ لري، د هغوي ټولنیز او فرهنګي تاثیراتو ورباندې سیوری غوړولی، حتی خپلولی یې سره کړي نو د همدې اړیکو د بقا او پاینښت په

موخه یې هغه هیواد ته مهاجرت کړې او تر نن ورځې هملته میشت دي، همدارنګه هغه سیمې چې د دیورډند فرضي ظالمانه کرښې لاندې راغلي او په زور او جبر د افغانستان له خاورې څخه جلا شوي او نن ورځ د خیبر پښتونخواه تر عنوان لاندې پیژندل کېږي، اکثره افغانان هلته میشت دي چې د پولې هغه غاړې اوسیدونکو سره نه جلاکیدونکې اړیکې لري د غم او خوښۍ اکثریت مؤضوعات یې سره یوځای دي ټولنیزې او فرهنګي عمیقې اړیکې سره لري چې حتی د جلا کولو تصور یې نشي کېدلای بناً د همدې اړیکو دبقا او پایښت په موخه له پولې هاخوا نن ورځ د مهاجرو تر عنوان لاندې ژوند کوي.

یو تعداد هغه افغانان چې اقتصادي وضعیت یې ښه ده د خپلو اولادونو د روښانه ژوند او په نړیوالو معیارونو برابرو عصري زده کړو ترلاسه کولو په موخه له هیواد څخه وتلي او نورو غربي هیوادنو کې د مهاجرو په توګه میشت شوي دي چې دغه ډله د مهاجرو ډیره کمه برخه تشکیلوي.

د دي تر څنګ له څه باندې څلورو لسیزو راپدې خوا په افغانستان کې د حکومتونو او نظامونو بیلابیل ډولونه تجربه او وکاریدل چې ځینې یې د کمونیزم او ځینې یې د دیموکراسۍ د مفکورې لاندې وه نو یوه ډله وګړي د وخت د سیاسي رژیمونو د مخالفینو په نوم د بي رحمانه زورونې لاندې وه او تاوتریخوالي لاندې راغلل نو دې ته مجبور شول چې د خپل ژوند ژغورنې په موخه د سیاسي مهاجرینو په توګه له هیواد څخه بهر او نورو هیوادونو کې د پناه خوښتونکي شي، دغه ډله هم نسبتاً کم دي چې تر نن پورې د نړۍ په بیلابیلو برخو (آسیایي، عربي، اروپایي، امریکایي ملکونو او یا هم استرالیا)کې ژوند کوي.

## ۱-۴: د افغان مهاجرینو لپاره پناه ورکونکي هیوادونه

افغانان د نړۍ په ډیرو هیوادونو کې د مهاجرینو په توګه ژوند کوي چې په مهمو لاملونو یې پورته وغږیدولو دا چې په کومو هیوادونو کې ژوند کوي په دوه کټګوریو یې ویشوو.

### ۱-۴-۱: ګاونډي هیوادونه

له څه باندې څلورو لسیزو ناخوالو را پدې خوا ډیر افغانان په نژدې ګاونډیو هیوادونو کې میشت شوي خو ډیره برخه یې په دوه ګاونډیو (ایران او پاکستان) هیوادونو کې میشت دي چې د ملګرو ملتونو سازمان د معلوماتو په اساس (8) میلیونه افغان مهاجر په ایران او پاکستان هیوادونو کې میشت دي د یادو ارقامو له

ډلې (3.5) میلیونه په پاکستان او (4.5) میلیونه د ایران په هیواد کې ژوندکوي، له دي جملې تقریباً (1.5) میلیونه مهاجر په پاکستان کې په قانوني او (2) میلیونه نور یې بدون له قانوني سند څخه اوسیږي او (2.6) میلیونه افغان مهاجر په ایران کې په قانوني او (1.9) میلیونه نور یې له سند پرته هلته ژوند کوي ولې د ایران هیواد د کورنیو چارو وزارت د ارقامو له مخې په دي هیواد کې له (5 تر 6) میلیونه افغان مهاجر شتون لري.

د یادولو وړ ده چې د نړیوالو اصولو او قوانینو له مخې هیڅ هیواد دا حق نلري چې د سند نه لرونکي مهاجر دې په ظالمانه توګه له خپل هیواد څخه په اجباري توګه وباسي ولې متاسفانه زمونږ ګاونډیو هیوادونو د یادو قوانینو، اسلامي شرعیت او اخلاقي مسئولیت په نظر کې نه نیولو سره خپلو یو طرفه او ظالمانه کړنو ته دوام ورکړی او په ډیره بې رحمۍ سره یې د افغان مهاجر د راویستلو لړۍ پیل کړې ده په ځانګړې توګه د پاکستان هیواد.

**۲-۴-۱: د سیمې او نړۍ هیوادونه**

له ګاونډیو هیوادونو ورهاخوا د نړۍ په مختلفو هیوادنو کې یو زیات شمیر افغانان د کډوالو په توګه ژوند کوي چې د اسیایي هیوادنو له ډلې په عربي ټولنه، مرکزي آسیا، روسې او ترکې هیوادونو کې زیاته برخه ژوند کوي، همدارنګه په اروپایي، امریکایي هیوادونو او یو شمیر یې په استرالیا او نړۍ نورو برخو کې میشت دي.

**یادونه:** ددې رسالې نورې برخې او مقالې په بله ګڼه کې ان شالله......